# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com   afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Social |
| --- | --- |

د افغانستان د نجات جرگه

۱۰/۰۸/۱۶



د غلام محی الدین زرملوال خواشینوونکي مړینه

مرحوم غلام محی الدین زرملوال د تیر نسل د فرهنگیانو د کاروان یو مخکښ له دې نړۍ نه سترگي پټې کړې .

انا لله و انا الیه راجعون

مرحوم زرملوال د دفتر او ډگر اتل و . ده د ویښ ځلمیانو د غورځنگ د مورچلونو نه نیولي د شوروریانو سره ضد په فرهنگي جگړه کې د پام وړ رول لوبولی و .

کله چه افغانستان د سوسیالیزم او دیموکراسی تر نامه لاندې د ناورین سره مخ شو مرحوم زرملوال د خپلو لیکنو له لارې چې په کې ملي جذبات په کافي اندازه محسوسیدل ، افغانان وحدت او سیاسي تشکل لوري ته رابلل .

مرحوم غلام محی الدین زرملوال جگړه ځپلی او ټپي افغانستان موږ ته پریښود بې له دې چې پخپل ژوند کې د خپل اوږد مهالي مبارزې محصول یعنې یو سر لوری ، د ثبات خاوند او خپلواک هیواد ووینې .

مرحوم زرملوال د افغانستان د نجات جرگې د موسسانو څخه و .

د افغانستان د نجات جرگه د لوی ښتن نه استدعا کوي چې نوموړي ته د ده د دیانت او تقوآ په بدل کې اجر او د کورنۍ پاتې غړو ته یې صبر او استقامت ور په برخه کړي .

د اګست ۱۴

۲۰۱۰ م کال

د افغانستان د نجات جرګې دخواخوږي پیغام

غلام محی الدین زرموال په حق ورسید

مرحوم غلام محی الدین زرموال د تېر نسل د فرهنګیانو د کاروان یو مخکښ په حق ورسېد .

انا لله و انا الیه راجعون .

مرحوم زرموال د دفتر او ډګر اتل و . دی د ویښ زلمیانو د غورځنګ له مورچلونو نه نیولې بیا د شورویانو په ضد په فرهنګي جګړه کې د پام وړ رول لوبولی دی .

کله چې افغانستان د سوسیالیزم او دیموکراسي تر نامه لاندې د ناورین سره مخ شو مرحوم زرموال د خپلو لیکنو له لارې چې پکې ملي جذبات په کافي اندازه محسوسېدل ، افغانان د یوالي او سیاسي تشکل لوري ته رابلل .

مرحوم غلام محی الدین زرموال جګړه ځپلی او ژوبل شوی افغانستان موږ ته پرېښود بې له دې چې پخپل ژوند کې د خپل اوږد مهالي مبارزې محصول یعنی یو سر لوړی ، د ثبات خاوند او خپلواک هیواد ووینې .

مرحوم زرموال د افغانستان د نجات جرګې د موسسانو څخه وو . د افغانستان د نجات جرګه د لوی څښتن نه استدعا کوي چه د نوموړي د دیانت او تقوأ په بدل ده ته اجر او د کورنی پاتو کسانوته یې جمیل صبر او استقامت ور په برخه کړي .

د اګست ۱۴

۲۰۱۰ م کال

د افغانستان د نجات جرګه